اې ابو المنذره، ته پوهېږې چې د الله په کتاب کې تاسره کوم آيت تر ټولو لوی دی؟» وايي: ما وويل: {اللهُ لا إِلَهَ إِلا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ} [البقرة: 255]. (الله (چې دی) نشته هېڅ لايق د عبادت مګر هم دی دی، همېشه ژوندی دی، د ټولې نړۍ انتظام کوونکی دی)وايي: نو زه يې په سينه کې ووهلم او ويې ويل: په الله قسم، چې علم دې درته مبارک شي (علم دې درته اسان شي) اې ابو المنذره

له ابی بن کعب رضي الله عنه نه روايت دی وايي: چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «اې ابو المنذره، آيا ته پوهېږې چې د الله په کتاب کې تا سره کوم آيت تر ټولو لوی دی؟ " هغه وويل: ما وويل چې : الله او د هغه رسول ښه پوهيږي. هغه وفرمايل: « اې ابو المنذره، ته پوهېږې چې د الله په کتاب کې تاسره کوم آيت تر ټولو لوی دی؟» وايي: ما وويل: {اللهُ لا إِلَهَ إِلا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ} [البقرة: 255]. (الله (چې دی) نشته هېڅ لايق د عبادت مګر هم دی دی، همېشه ژوندی دی، د ټولې نړۍ انتظام کوونکی دی)وايي: نو زه يې په سينه کې ووهلم او ويې ويل: په الله قسم، چې علم دې درته مبارک شي (علم دې درته اسان شي) اې ابو المنذره».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم له اُبی بن کعب رضي الله عنه څخه د الله په کتاب کې د تر ټولو لوی آيت په اړه ځواب کې زړه نازړه شو، بيا يې وويل: آيت الکرسي دی {الله لا إله إلا هو الحي القيوم}:پوښتنه وکړه، نو هغه په يعني (الله (چې دی) نشته هېڅ لايق د عبادت مګر هم دی دی، همېشه ژوندی دی، د ټولې نړۍ انتظام کوونکی دی) نو رسول الله صلی الله عليه وسلم يې تاييد وکړ، او رسول الله - صلی الله عليه وسلم - په سينه کې وواهه، معنا يې دا وه چې سينه يې له علم او حکمت څخه ډکه ده، او دعا يې ورته وکړه چې پدې علم دې نېکمرغه شي او ورته دې آسان شي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65059

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee